QASED
قاصد
Strategic Research Center

# ۱۴-۱۵مه ګڼه

(۹ – ۲۲ اګست ۲۰۱۹م)

(۱۸ – ۳۱ اسد ۱۳۹۸هـ ش)

# د جګړې د مرګ‌ژوبلې اوونیز راپور



قاصد د ستراتېژیکو څېړنو مرکز په افغانستان کې د جګړو او امنیتي پېښو له کبله ښکیلو لورو او ملکي خلکو ته اوښتې مرګ‌ژوبله په دقیق ډول څاري او دغه اوونیز راپور ترې چمتو کوي. په دغو راپورونو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې د افغان حکومت د سرچینو، د طالبانو د سرچینو، په سیمه کې عیني شاهدانو او نورو بېلابېلو ادارو او باوري سرچینو د معلوماتو له مخې راټولېږي. د دغو راپورونو اساسي موخه د روانې جګړې درنو زیانونو ته د واکمنو چارواکو او مسؤولو لورو پام راړول دي.


www.qased.org

info@qased.org

077 281 58 58

## سریزه

دغه راپور د ۲۰۱۹م کال د اګست له ۹مې تر ۲۲مې (د ۱۳۹۸ لمریز کال د زمري له ۱۸مې تر ۳۱مې) نېټې پورې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې رانغاړي.

د راپور د موندنو له مخې، په دغو دوو اوونیو کې د ښکېلو لورو د مرګ ژوبلې کچه کمه وه؛ خو ملکي وګړو ته بیا درنه مرګ ژوبله اوښتې ده. د دغې مرګ ژوبلې تر ټولو خونړۍ او زړه بوږنوونکې پېښه په کابل کې وشوه، کله چې د داعش ډلې د یوه ځانمرګي بریدګر له لوري د ودونو په یوه تالار کې د واده مراسمو ته راټول شوي خلک په نښته شول. په دې پېښه کې د ښځو او ماشومانو په ګډون لږ تر لږه ۸۰ تنه ووژل شول او ۱۸۲ نور ټپیان شول، چې ټول ملکي وګړي وو.

په ټولیز ډول، په تېرو دوو اوونیو کې ۷۲۰ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې، چې ۳۵۰ یکې وژل شوي او ۳۷۰ نور ټپیان شوي دي. خو دا چې دا مرګ ژوبله په دوو اوونیو کې اوښتې، د وړاندې اوونۍ په پرتله د کموالي ښودنه کوي، چې لامل یې هم د اختر په شپو کې د طالبانو له لوري د نااعلان شوي اوربند پلي کېدل دي.

دلته په ترتیب سره افغان ځواکونو، د دولت وسله‌والو مخالفینو، ملکي خلکو او بهرنیو ځواکونو ته د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې او جزئیات په جلا جلا عنوانونو کې لولئ.

## افغان ځواکونو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

**د اګست ۹مه:**

د تخار ولایت په چاه‌آب ولسوالۍ کې د دوو غیر مسؤولو وسله‌والو ډلو ترمنځ نښته رامنځته شوې، چې په پایله کې یې ۳ تنه غیرمسؤول وسله‌وال وژل شوي او ۱۲ نور ټپیان شوي دي.

د کاپیسا ولایت په مرکز محمود راقي کې، د غیر مسؤولو وسله‌والو ډلو د وسله‌والې نښتې له امله ۴ تنه غیر مسؤول وسله‌وال وژل شوي دي.

**د اګست ۱۰مه:**

د کابل – کندهار پر لویه لاره د افغان ځواکونو د یوه کاروان هاموي ټانګ پر یوه ماین وربرابر شوی، چې له کبله یې ۴ د ملي اردو پوځیان وژل شوي دي.

د زابل ولایت د شینکۍ ولسوالۍ په سیوري سیمه کې د وسلهوالو طالبانو او پولیسو ترمنځ د وسلهوالې نښتې له کبله ۲ پولیس وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د جوزجان ولایت په قرقین ولسوالۍ کې د وسلهوالو طالبانو په برید کې یو د ملي اردو سرتېری او یو سیمهییز پولیس وژل شوي او دوه نور ټپیان شوي دي.

**د اګست ۱۱مه:**

د اروزګان ولایت د چهار چینو ولسوالۍ امنیه قوماندان، په یوه مخامخ جګړه کې ټپي شوی او د ملي اردو ۵ سرتېري وژل شوي او ۷ نور ټپیان شوي دي.

**د اګست ۱۴مه:**

د بغلان ولایت په ګذرګاهنور ولسوالۍ کې د پولیسو پر موټر د سړک پر غاړه د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له کبله ۵ پولیس وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د هرات ولایت په چشت شریف ولسوالۍ کې وسلهوالو طالبانو یو محلي پولیس وژلی دی.

**د اګست ۱۵مه:**

د غور ولایت د فېروزکوه ښار په قوتس سیمه کې د وسلهوالو طالبانو پر برید کې ۲ دولت پلوي وسلهوال وژل شوي دي.

**د اګست ١٦مه:**

د فاریاب ولایت په قیصار ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسلهوالو طالبانو د وسلهوالې نښتې په پایله کې ۴ پولیس وژل شوي او ٦ نور ټپیان شوي دي.

د هرات ولایت د شینډنډ ولسوالۍ په عزیز آباد کلي کې د افغان ځواکونو او طالبانو په یوه وسلهوالو نښته کې یو کوماندو سرتېری وژل شوی دی.

**د اګست ۱۷مه:**

د فارياب ولايت په ينګي کلي کې پر يوه پوسته د طالبانو په بريد کې ۵ ملي او سيمه‌ييز پوليس وژل شوي او ٦ نور ټپيان شوي دي.

د فارياب ولايت د شرين تګاب ولسوالۍ پر مرکز د طالبانو په يوه ډله‌ييز بريد کې يو پوليس وژل شوی او ۷ نور ټپيان شوي دي.

**د اګست ۱۸مه:**

د هرات ولايت په ګذره ولسوالۍ کې يوه پوليس افسره د طالبانو له لوري تر نيول کېدو وروسته وژل شوې ده.

**د اګست ۱۹ مه:**

د بلخ ولايت د چهاربولک ولسوالۍ په تيمورک کلي کې د ملي اردو پر يوه هاموۍ ټانګ د سړک تر غاړې ځای پر ځای شوي ماين په چاودنه کې يو سرتېری وژل شوی او درې نور ټپيان شوي دي.

د بادغېس ولايت د قادس ولسوالۍ پر ودانۍ د وسله‌والو طالبانو په بريد کې د ملي اردو يو سرتېری وژل شوی او يو بل ژوبل شوی دی.

**د اګست ۲۰مه:**

د غور ولايت د فېروزکوه ولسوالۍ په تنګي بيدان سيمه کې د افغان امنيتي ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د وسله‌والې نښتې په پايله کې د يو سيمه‌ييز پوليس په ګډون ۳ پوليس وژل شوي دي.

د جوزجان ولايت په فيض آباد ولسوالۍ کې د سيمه‌ييزو پوليسو يو قوماندان د خپل ساتونکي لخوا وژل شوی دی.

د بلخ ولايت په زاري ولسوالۍ کې د پوځي عملياتو پر مهال درې پوليس او يو د ملي امنيت کارکوونکی وژل شوی دی.

د بغلان ولايت په تاله و برفک ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په بريد کې ۴ سيمه‌ييز پوليس وژل شوي دي.

**د اګست ۲۱مه:**

د فارياب ولايت د المار ولسوالۍ په قره قلي سيمه کې، د پوځي عملياتو پر مهال يو کماندو سرتېری وژل شوی او يو ټپي شوی دی.

**جدول ۱: افغان ځواکونو ته اوښتې مرګژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| ملي اردو | ۱۴ | ۱۲ | ۲٦ |
| پولیس | ۴۱ | ۳۸ | ۷۹ |
| مجموعه | **۵۵** | **۵۰** | **۱۰۵** |

## د دولت د وسله‌والو مخالفینو مرګژوبله

**د اګست ۱۱مه:**

د کندهار ولایت په میوند ولسوالۍ کې، د افغان ځواکونو په عملیاتو کې ۷ د دولت وسله‌وال مخالفین وژل شوي او ٦ نور ټپیان شوي دي.

د غزني ولایت په ګیلان ولسوالۍ کې ۴ وسله‌وال طالبان په یوه هوایي برید کې وژل شوي دي.

په جلال‌آباد ښار کې د یوه هوایي برید په پایله کې ۱۵ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د اګست ۱۲مه:**

د لوګر ولایت په پادخواب ولسوالۍ کې یو طالب وسله‌وال وژل شوی دی. همداز د میدان وردګو ولایت په نرخ ولسوالۍ کې هم ٦ وسله‌وال طالبان په یوه برید کې وژل شوي دي.

**د اګست ۱٦مه:**

د لوګر ولایت په پادخواب ولسوالۍ کې د سپیشل فورس ځواکونو په عملیاتو کې یو طالب وسله‌وال وژل شوی دی.

د غزني ولایت په ګیلان او ګیرو ولسوالیو کې ۹ وسله‌وال طالبان په هوایي بریدونو کې وژل شوي دي.

د فراه ولایت په بالا بلوک ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په چاپیزو عملیاتو کې ۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

**د اګست ۱۷مه:**

د اروزګان ولایت په چهار چینو ولسوالۍ کې د هوایي برید په پایله کې ۷ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د هلمند ولایت په ګرمسېر او د سنګین ولسوالۍ په ګرم‌آب سیمه کې د وسله‌والو بریدنو په پایله کې ۲ وسله‌وال طالبان په ګرمسېر ولسوالۍ او ۵ نور په سنګین ولسوالۍ کې وژل شوي دي.

د فاریاب ولایت په دولت آباد او شیرین تګاب ولسوالیو کې د طالب وسله‌والو او افغان ځواکونو د وسله‌والې نښتې په پایله کې ۸ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۱۰ نور ټپیان شوي دي.

د فاریاب ولایت په ینګي کلي کې پر یوه پوسته د طالبانو د برید پر مهال د افغان ځواکونو ترځنګ ۱۲ تنه طالب جنګیالي هم وژل شوي دي.

**د اګست ۱۸مه:**

په کندز ولایت کې د هوایی برید له امله ۷ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د فراه ولایت په بالابلوک ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو د ځانیزو عملیاتو په پایله کې ۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

**د اګست ۱۹مه:**

د افغان ځواکونو په هوایی برید کې د لوګر ولایت په ازره ولسوالۍ کې ۵ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د هرات ولایت په شیندند ولسوالۍ کې یو طالب وسله‌وال وژل شوی دی.

د بادغېس ولایت د قادس ولسوالۍ پر ودانۍ د وسله‌والو طالبانو د برید پر مهال دوه طالب جنګیالي وژل شوي دي.

**د اګست ۲۰مه:**

د زابل ولایت په ارغنداب ولسوالۍ کې د ملي پولیسو او وسله‌والو طالبانو د وسله‌والې نښتې په پایه کې ۷ طالب وسله‌وال وژل شوي او ۱۲ نور ټپیان شوي دي.

د غور ولایت د فېروزکوه ولسوالۍ په تنګې بیدان سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د وسله‌والې نښتې په پایله کې ۳۸ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۸ نور ټپیان شوي دي.

**د اگست ۲۱مه:**

د غور ولایت د دولتیار ولسوالۍ په کورک سیمه کې د افغان ځواکونو په عملیاتو کې یو وسله‌وال طالب وژل شوی دی.

**جدول : د دولت وسله‌والو مخالفینو ته اوښتې مرګ‌ژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| طالبان | ۱۴۵ | ۴۴ | ۱۸۹ |
| مجموعه | ۱۴۵ | ۴۴ | ۱۸۹ |

## ملکي وګړو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

**د اګست ۹مه:**

د تخار ولایت په چاه‌آب ولسوالۍ کې د دوه وسله‌والو ډلو ترمنځ نښته رامنځته شوې، چې په پایله کې یې ۵ ملکي وګړي وژل شوي دي.

د پروان ولایت په جبل السراج ولسوالۍ کې ۴ تنه په ډزو وژل شوي؛ خو د پېښې انګیزه تراوسه معلومه نه ده.

**د اګست ۱۰مه:**

افغان امنیتي ځواکونو د اختر په شپه د ننګرهار ولایت په خوګیاڼیو ولسوالۍ کې پر یوه کور چاپه وهلې، چې له کبله یې ۳ ملکي وګړي وژل شوي دي.

**د اګست ۱۱مه:**

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په ګلال‌کوه کلي کې د ملي امنیت د صفر یک قطعې په عملیاتو کې ۱۱ ملکي وګړي وژل شوي دي.

**د اګست ۱۳مه:**

د میدان وردګو ولایت په جغتو ولسوالۍ کې د سړک پر غاړه د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له کبله د کندهار پوهنتون استاد او د کورنۍ ۴ غړي یې وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

**د اگست ۱۵مه:**

د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ په جالوخېلو سیمه کې په یوه کور د هاوان مرمۍ د لګېدلو له کبله د دوه ماشومانو او یوې ښځې په ګدون ۳ ملکي وګړي وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

**د اگست ١٦مه:**

د میدان وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ په سنداور کلي کې د افغان ځواکونو په شپنیو عملیاتو کې د ښځو په ګډون ۵ تنه ملکي وګړي وژل شوي دي.

د هرات ولایت د کشک رباط سنګي ولسوالۍ په چهل دختران کلي کې یو حکومتي کارکوونکی د طالبانو له لوري تر نیول کېدو وروسته وژل شوی دی.

**د اگست ۱۷مه:**

د غزني ولایت په واغظ ولسوالۍ کې د ناپېژاندو وسلوالو په برید کې ۳ ملکي وګړي وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

د کابل ښار د پولیسو شپږمې حوزې اړوند، د شهر دبی د ودونو په تالار کې د داعش ډلې د یوه ځانمرګي بریدګر د برید له کبله د ښځو او ماشومانو په ګډون ۸۰ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ۱۸۲ نور ټپیان شوي دي.

په جلال‌آباد ښار کې یوه کور ته څېرمه د یوه بم د چاودنې له کبله ۹ ملکي وګړي وژل شوي دي.

د فاریاب ولایت د پښتونکوټ ولسوالۍ په ملایان سیمه کې د طالبانو له لوري د یوه توغول شوي هاوان له کبله یو ماشوم وژل شوی او ٦ نور ټپیان شوي دي.

**د اگست ۱۸مه:**

د بلخ ولایت د دولت‌آباد ولسوالۍ په حیرتان کلي کې د سړک پرغاړه د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له کبله ۹ ملکي وګړي وژل شوي دي.

په جلال‌اباد ښار کې د څو پرلپسې چاودنو له کبله ٦٦ وګړي ټپیان شوي دي.

د کندز ولایت د قلعه‌ی زال ولسوالۍ په مرکزي سیمه آق تېپه کلي کې د افغان ځواکونو په توغندویي برید کې د یوه کور ۳ غړي ملکي وګړي وژل شوي دي.

**د اگست ۲۰مه:**

په بغلان ولایت کې  د ثبت احوالو نفوسو ادراې معاون، د وسله‌والو طالبانو له لوري لومړی تښتول شوی او وروسته یې وژلی دی.

د غور ولایت په فېروزکوه ښار کې د سرک پر غاړه د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له کبله د یوه ماشوم په ګډون دوه ملکي وګړي وژل شوي او یوه ښځه ټپي شوې ده.

د کونړ ولایت په ناړی ولسوالۍ کې د وسله‌والو کسانو په برید کې دوه ملکي وګړي وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

**د اگست ۲۲مه:**

د میدان وردګو ولایت په چک ولسوالۍ کې د واده پر مراسمو، د ملي اردو له لوري د ډې سي توپ د مرمۍ د لګېدو له امله یو ملکي وګړی وژل شوی او ٦ نور ټپیان شوي دي.

**جدول ۳: ملکي وګړو ته اوښتې مرګ‌ژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| ملکي وګړي | ۱۴۸ | ۲۷٦ | ۴۲۴ |
| مجموعه | ۱۴۸ | ۲۷٦ | ۴۲۴ |

## بهرنیو ځواکونو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

**د اگست ۲۱مه:**

د غوځ ملاتړ ماموریت د یوې ویناپاڼې په خپرولو سره منلې، چې په فاریاب ولایت کې دوه امریکایي سرتېري وژل شوي دي.

## پایله او د اوونۍ تحلیل

د تېرو دوو اوونیو راپور ښیي، چې د روان لمریز ۱۳۹۸ کال د زمري له ۱۸مې تر ۳۱مې (د اگست له ۹مې تر ۲۲مې) نېټې پورې د ټول هېواد په کچه ۷۲۰ تنو ته مرگ‌ژوبله اوښتې ده، چې ۳۵۰ یکې وژل شوي او ۳۷۰ نور ټپیان شوي دي.

په ټولیز ډول، په دې موده کې د جگړې د ښکېلو لورو مرگ ژوبله کمه وه، چې لامل یې د اختر په شپو کې د طالبانو له لوري د نااعلان شوي اوربند پلي کېدل وو. که څه هم د ملکي خلکو د مرگ ژوبلې کچه هم د هېواد په بېلابېلو سیمو کې پر همدغه دلیل کمه وه؛ خو په کابل کې د واده پر مراسمو د داعش ډلې د یوه خونړي برید له کبله دا کچه خورا لوړه شوه.

په وروستۍ اوونۍ کې ۱۱۷ تنه افغان سرتېري وژل شوي وو، خو په تېرو دوو اوونیو کې بیا د هماغې یوې اوونۍ نیمایي افغان پوځیان (۵۵ تنه) وژل شوي دي. د وسله‌والو طالبانو د وژل شوو شمېره هم د وړاندې اوونۍ په پرتله کمه وه. په وړمه اوونۍ کې ۱۷۵ تنه وسله‌وال جنگیالي وژل شوي وو، خو په تېرو اوونیو کې بیا دا کچه ۱۴۵ تنو ته راښکته شوې ده. همدا راز په وړمه اوونۍ کې د ملکي وگړو د وژل شوو شمېر ۵۹ تنه و؛ خو په تېرو دواړو اوونیو کې بیا ۱۴۸ تنه ملکیان وژل شوي او د زیاتوالي ښودنه کوي. همدا راز په دې موده کې د ټپیانو شمېر هم خورا لوړ دی او ۲۷۶ تنه ټپیان شوي دي.

لکه چې مخکې یادونه وشوه، د دغه راپور په موده (دوو اوونیو) کې د ملکي خلکو ترټولو ډېره مرگ ژوبله په کابل کې د خونړي برید له کبله وه؛ خو بیا هم د افغان ځواکونو په شپنیو عملیاتو او هوایي بریدونو کې او همدا راز د وسله‌والو طالبانو په له لوري په شوو چاودنو کې هم ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې وه.

په کابل کې د داعش ډلې خونړی برید داسې مهال وشو، چې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ په قطر کې د سولې خبرې اترې نهم پړاو ته د داخلېدو په حال کې وې او له طالبانو سره د سولې د یوه احتمالي تړون له لاسلیک کېدو وروسته یې په هېواد کې د داعش ډلې د خونړي فعالیت په اړه یو ځل بیا اندېښنې راپورته کړې.

له بله پلوه د اگست په ۲۱مه په فاریاب ولایت کې دوه امریکایي پوځیان هم ووژل شول، چې ښایي له طالبانو سره د امریکا د سولې پر خبرو به هم اغېزه ولري او د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ به، چې له طالبانو سره یوې هوکړې ته خورا بېړنی دی، دا پېښه په خپله گټه وکاروي. په روان کال کې ټول ۱٦ امریکایي پوځیان په افغانستان کې وژل شوي دي.

قاصد د ستراتېژيکو څېړنو مرکز په هېواد کې د جگړې خونړي وضعيت ته په کتلو او په کابل کې د تېرې اوونۍ د چاودنې په څېرو خونړيو پېښو د مخنيوي لپاره له افغان حکومت او طالبانو غواړي، چې د سولې او بين الافغاني تفاهم پر وړاندې خنډونه جوړ نه کړي، ترڅو په هېواد کې د نورو ډلو د فعاليت بستر له منځه ولاړ شي. همدا راز يو ځل بيا پر ښکېلو لورو غږ کوو، چې د ملکي وگړو ژوند ته جدي پام وکړي.

**جدول ۴: د جگړې د ښکېلو لورو او ملکي خلکو مجموعي مرگ‌ژوبله**

| نوم | وژل شـــوي | نوم | ټپيـــــان |
|---|---|---|---|
| افغان ځواکونه | ۵۵ | افغان ځواکونه | ۵۰ |
| د دولت وسله‌وال مخالفين | ۱۴۵ | د دولت وسله‌وال مخالفين | ۴۴ |
| ملکي وگړي | ۱۴۸ | ملکي وگړي | ۲۷٦ |
| بهرني ځواکونه | ۲ | بهرني ځواکونه | ۰ |
| **مجموعه** | **۳۵۰** | **مجموعه** | **۳۷۰** |
| **ټول وژل شوي او ټپيان** | **۷۲۰** | | |

پای

**Contact Us:**
Dr. Abdul Baqi Amin – General Director:
director@qased.org
abdulbaqi123@gmail.com
0789316120
Hekmatullah Zaland – Deputy Director
deputy_director@qased.org
hekmat.zaland@gmail.com
0775454048
Office:
info@qased.org
www.qased.org
077 281 58 58